اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د اِمام مالك عشقِ مدينه

دُعائے عطّار: يا ربّ كريم! چي څوك دا رساله "د امام مالك عشقِ مدينه" اولولي يا ئې واوري، هغه د امام مالك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بركت د مدينے مُنَوَّرے د عشق نه مالا مال كړې او د هغه بے حسابه بخښنه اوكړې. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاك د آخري نبي مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چي دا دُرُود شريف اولوستلو: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به ئې مغفرت اُوكړے شي. (سعادةُ الدارين، ص244)

صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد ❁❁❁ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!

## د امام مالك تعارُف

د كروړاؤ مالكيانو د عظيم پيشوا، حضرت امام مالِك بِن اَنَس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم "مالِك" او كُنيت "اَبُو عَبدُ الله" دے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په څلورو مُجتهدو امامانو كښې يو مشهور امام او تبع تابعي دے. (1) د مشهور قول مطابق هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 93 هجرئ كښې په مدينه منوره كښې پيدا

[1] ... تابعي نه مراد هغه كس دے، چا چي صحابي سره په حالتِ اِيمان كښې ملاقات كړے وي او د اِيمان په حالت كښې وفات شوے وي، او د تبع تابعي نه

که زما لوستل مو خوښ شو نو زه ئې تاسو ته اورووم ګنې پرېږدم به ئې. حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اولوله! امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه صفحه اولوستله او خاموشه شو، هغوئې اُوفرمائيل: نور اولوله. هغوئې يوه صفحه اولوستله بيا خاموشه شو. حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيا ارشاد اوفرمائيل: نور اولوله! هغوئی بيا اولوستله نو [د هغوئې لوستل] د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير خوښ شولو. بيا هغوئې د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په څنګ کښې پوره مُؤَطَّا اولوستله. او چې کله بيا په خدمت کښې حاضر شو نو حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائيل: داسې څوك اوګوره چې تاسو ته ئې وائي. نو حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوکړو: جناب! زه دا غواړم چې تاسو ئې پخپله زما نه واورئ، که ښه مې نه شو لوستلے نو څوك به اوګورم چې ما ته ئې لوَلي. حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: ښه! ټيك ده، اولوله! نو حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوره مُؤَطَّا شريف زباني [يعني په يادو] واوروله. هغوئی فرمائي: په دې باندې حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته دُعا اوکړه او ډيره زياته خوشحالي ئې ښکاره کړه.

(حليةُ الاولياء، 9/78، حديث: 13177، 13178، 13180، بتغيُّرٍ)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئی رحمت وي او د هغوئې په برکت دِ زمونږه بےحسابه بخښنه اوشي.

## په امام مالك باندې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم

حضرت عبدُ العزيز بِن محمد دَراوَرِدِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد فرمائی: ما په مسجدِ نبوي کښې په رِياضُ الجَنَّة (د جنت په ټکړه) کښې آرام کولو، ما ته په خوب کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار اوشو. خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو بکـر و عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا سره د خپل مزار مبارك نه بهَر ته تشريف راوړلو. زه اودريدم عرض مې اوکړو: يَـارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د کوم ځائے نه تشريف راوړلو؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د مالك د پاره نيغه لاره قائمووم. بيا چې زه رابيدار شوم او کله د امام مالك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته حاضر شوم نو هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُؤَطَّا شريف

ترتيب كولو، ما چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د دې خوب په باره كښې اووئيل نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ژړا شو. (ترتيب المدارک وتقريب المسالک، 70/2)

## د حديث ادب

د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څنګ ته به چې كله خلق د څه تپوس د پاره راغلل نو خادِمه به ئې د كور نه را اُووتله او تپوس به ئې ترينه اوكړو چې حديث اوريدلو له راغلي ئې كه د شرعي مسئلے تپوس له؟ كه هغوئي به اووئيل چې د شرعي مسئلے معلومات حاصلولو د پاره راغلي يُو نو امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فوراً بهَرته تشريف راوړلو. او كه هغوئى به اووئيل چې حديث شريف اوريدلو له راغلي يُو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به اوَّل غُسل اوكړو، ښكلي جامے به ئې واغوستلې، خوشبو به ئې اولګوله، عمامه شريفه به ئې اوتړله، بيا به ئې څادر په سر كړو او د هغوئى د پاره به مَسند [يعني تخت] اولګولے شو، بيا به په ډيره عاجزئ سره كښيناستلو او حديث شريف بيانول به ئې شروع كړو او د مجلس د شروع نه تر آخره پورې به خوشبو لُوګے كيدله او هغه مَسنَد [يعني تخت] صرف د حديث شريف بيانولو د پاره مخصوص وو، چې كله د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د دې د سبب تپوس اوشو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: زه دا خبره خوښووم چې د حديثِ رسول ډير زيات تعظيم اوكړم. (الشفاء، 45/2)

## د امام مالِك په قبر كښې مدد كول

امام عبدُ الوَهَّاب شَعرانى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږ اُستاذ شيخُ الاسلام اِمام نَاصِرُ الدِّين لَقاني مالِكي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې كله وفات شو نو بعضې نيكو خلقو په خوب كښې اوليدلو او تپوس ئې ترينه اوكړو چې **الله** پاك تاسو سره څه مُعامَله اوكړه؟ هغوئي اُووئيل: چې كله نَكِير مُنكَر زه د سوالونو د پاره كښينولم نو امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړلو او هغوئي (يعني نَكِير مُنكَر) ته ئې

ارشاد اوفرمائيلو: (آيا) داسې كس (يعني دومره غټ عالِمِ دِين) هم د دې (خبرې) حاجت لري چې د هغه نه په **الله** او رسول باندې د ايمان [راوړلو] په باره كښې تپوس اوكړے شي! جُدا شئ (يعني لاړ ې شئ) د ده د خوا نه. چې دا ئې ښنكه اُوفرمائيل نو نَكِيرَين زما نه لرې شو. [د ې نه ثابته شوه] چې مشائخِ كرام عَلَيْهِمُ الرَّحمه صوفِياء [اولياء پيران صاحبان] په سخت وخت كښې په دُنيا او آخرت كښې د هغوئي د تابعدارئ كوونكو او مريدانو خيال ساتي نو د هغه اَئِمَّهٔ مَذاهِب [يعني د مذهبونو د اِمامانو] به څه وائې كوم چې د زمكې ميخونه دي، د دِين ستنې دي او د شارِع (يعني حُضُور)صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت باندې د دې [يعني د دِين] اَمِين دي رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم اجمَعين. (ميزان الكبرى ،الجزء الاول،ص65)

## د مشهور عاشِقِ رسول امام مالك 12 حكايتونه

### ﴿1﴾ په مدينه منوره كښې ښپې ابله ښپې

د كروړاؤ مالِكيانو عظيم پيشوا امام مالِك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه زبردست عاشِقِ رسول وو، هغوئى به د مدينے مُنَوَّرے په كوڅو كښې ښپې ابله ښپې گرځيدلو. (طبقات الكبرى للشعرانى، الجزء الاول، ص76)

### ﴿2﴾ هره شپه د خوږ نبي ديدار

د حضرت مُثَنّٰى بِن سعيد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بيان دے: امام مالِك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به فرمائيل: يوه شپه هُم داسې نه ده تيره شوې چې په هغې كښې به ما ته د خپل خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار نه وي شوے. (حلية الاولياء 346/6)

مِٹ جائے یہ خودی تو وہ جلوہ کہاں نہیں دَردا میں آپ اپنی نظر کا حجاب ہوں

(حدائقِ بخشش، ص91)

## ﴿3﴾ په مدينه منوره کښې د سورلۍ نه پرهيز

حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما په مدينه منوره کښې د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دروازه کښې د خُراسان يا مصر اسونه تړلي اوليدل کوم چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په تحفه کښې ورکړے شوي وو، دومره اعلیٰ اسونه ما چرته نه وو ليدلي، ما عرض اوکړو: دا اسونه څومره ښه دي! هغوئي اوفرمائيل: زه دا ټول تاسو ته په تحفه کښې درکووم. ما عرض اوکړو: يو اس خو د خپل ځان د پاره پاتې کړئ. هغوئي اُوفرمائيل: ما ته د خپل ربّ نه حيا راځي چې هغه مبارکه زمکه د خپل اس د قدمونو لاندې کړم په کومه کښې چې د هغه خوږ پيغمبر، مَدَني تاجوَر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم موجود دے يعني د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضه مبارکه پکښې ده. (احياء العلوم 48/1ملخصا،الروض الفائق،ص217)

ہاں ہاں رہِ مدینہ ہے غافل ذرا تو جاگ  اوپاؤں رکھنے والے یہ جا چشم وسر کی ہے

(حدائقِ بخشش،ص217)

[لکه څنګه چې پښتو کښې يو بزرګ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

زړګيه سترګې لګوه د قدم لاره نه ده  حضرت پرې اِيښې قدمونه دومره خواره نه ده]

## ﴿4﴾ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر په وخت کښې رنګ بدليدل

حضرت مُصعَب بِن عبدُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا حال وو چې کله به د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مخکښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذکر کيدلو نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مخ رنګ به بدل شو او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر د ادب د پاره به ښه ټِيټ شولو. يوه ورځ د هغوئ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه په دې باره کښې تپوس اوکړے شو نو اوئې

فرمائيل: كه تاسو هغه څه ليدلے څه چې زه وينم نو په دې په باره كښې به مو تپوس نه كولے. (الشفاء،2/41، 42)

جان ہے عشقِ مصطفٰے روز فزوں کرے خدا　　جس کو ہو درد کا مزہ نازِ دوا اُٹھائے کیوں

(حدائقِ بخشش، ص94)

## ﴿5﴾ د حديثِ پاک د درس انداز

حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (د 17 كالو په عمر كښې درسِ حديث وركول شروع كړو) چې كله به ئې احاديث مبارَكه اوروِلو نو مَسنَد [يعني تخت] به خور كړے شو، ښكلې او ښائسته جامے به ئې واغوستلې، خوشبو به ئې اولګوله او په ډيره عاجزئ به ئې د خپلې حُجرے نه بهَرته تشريف راوړلو او په ادب به كښيناستلو (د درسِ حديث په دوران كښې به ئې كله هُم ډېره نه بدلوله) او ترڅو پورې به چې په هغه مجلس كښې حديثونه لوستلے كيدل په انګيټهئ كښې به [د خوشبو د پاره] عُود او لُوبان لوګے كيدل. (بستان المحدثين ص19 ملخصا)

عنبر زمیں عَبیر ہوا مُشک تَر غُبار!　　ادنیٰ سی یہ شناخت تِری رَہ گزر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص225)

## ﴿6﴾ لړم 16 ځله اوچيچلو خو درسِ حديث ئې جاري اوساتلو

حضرت عبدُ الله بِن مُبارَك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې حضرت ابو عبدُ الله امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه درسِ حديث وركولو چې لړم 16ځله اوچيچلو. د درد د سختې نه ئې مخ مبارك زِيَړ شو خو درسِ حديث ئې جاري اوساتلو. (او ډېره قدر ئې هُم بدله نه كړه) چې كله درس ختم شو او خلق لاړل نو ما عرض اوكړو: اے ابو عبدُ الله! نن خو ما په تاسو كښې يوه عجيبه خبره اوليدله! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: آو! خو ما د حديثِ رَسُول د تعظيم په وجه صبر اوكړو. (الشفاء،2/42)

ایسا گُمادے اُن کی وِلا میں خدا ہمیں　　ڈھونڈھا کرے پر اپنی خبر کو خبر نہ ہو

(حدائقِ بخشش،ص130)

## ﴿7﴾ د احاديثو پاڼړې ئې په اوبو کښې واچولې خو

عاشقِ مدينه حضرت امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ټولو نه اوَّل د فَنِّ حديث باقاعده کتاب مرتَّب کړو کوم چې د **مُؤَطّا اِمام مالِک** په نوم مشهور دے. هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير زيات مُخلِص وو. حضرت شيخ محمد بن عبدُ الباقي زُرقاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نقل کوي: امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې کله د "مُؤَطّا" د تصنيف نه فارغه شو نو هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د خپل اخلاص د ازميښت د پاره د مُؤَطّا د مُسَوَّدے ټولې پاڼړې په اوبو کښې واچولې او اوئې فرمائيل: که په دې کښې يوه پاڼړه هم لـمده شوه نو ما ته د دې هيڅ حاجت نشته. خو (دا د امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ربښتيني نيت او اِخلاص برکت وو چې) يوه پاڼړه هم لـمده نه شوه. (شرح الزرقاني على المؤطاء، 36/1ملخصا)

بنادے مجھ کو الٰہی خُلوص کا پیکر　　قریب آئے نہ میرے کبھی رِیا یاربّ

(وسائل بخشش،ص93)

## ﴿8﴾ په عشقِ رسول کښې د ژړيدونکي مُحَدِّث قدرداني

د حضرت امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه چا د (هغوئي اُستاذِ مُحترم) حضرت اَيُّوب سَختياني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په باره کښې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائيل: زه چې د کومو حضراتو نه احاديثِ مبارکه روايت کووم هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په هغوئي ټولو کښې افضل دے، ما هغوئی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دوه ځله په سَفَرِ حج کښې ليدلے دے چې کله به د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په مخکښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کيدلو نو هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به دومره ژړل چې زما به پرې رحم راغلو. چې کله ما د هغوئی رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د تعظيمِ مُصطفٰی او عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا حالت اوليدلو نو ترينه مُتَاَثِّره شوم او احاديث روايت کول مې ترينه شروع کړل. (الشفاء،41/2 مُلَخَّصاً)

یادِ نبیِّ پاک میں روئے جو عمر بھر مولیٰ مجھے تلاش اُسی چشمِ تر کی ہے

## ﴾9﴿ د مدينے د خاورې توهين کولو والا د پاره سزا

حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدينے مُنَوَّرے خاورې ته خرابه وئيلو والا په باره کښې فتوٰی ورکړه چې دا گُستاخه دِ 30 کوړے اووهلے شي او قيد دِ کړے شي. (الشفاء،2/57)

جس خاک پہ رکھتے تھے قدم سیّدِ عالَم اُس خاک پہ قرباں دِلِ شیدا ہے ہمارا

(حدائقِ بخشش،ص32)

## ﴾10﴿ د قضائے حاجت د پاره به د حرم نه بهَر تللو

حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (د مدينے مُنَوَّرے د تعظيم په وجه) په مدينه منوره کښې کله هم قضائے حاجت نه دے کړے [يعني اودس نه دے مات کړے]، د دې د پاره به ئې هميشه د حرمِ مدينه نه بهَر ته تشريف وړلو، البتَّه د مرض په حالت کښې به **مجبوره** وو. (بستان المحدثين، ص19)

اے خاکِ مدینہ تُوہی بتا کس طرح پاؤں رکھوں یہاں
تُوخاکِ پاسرکار کی ہے آنکھوں سے لگائی جاتی ہے

## ﴾11﴿ په مسجدِ نَبَوي کښې آواز ټيټ ساتئ

د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره په مسجدِ نبوي کښې د خبرو په دوران کښې د خليفه ابو جعفر آواز اوچت شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته اوفرمائيل: اے خليفه! په دې جمات کښې آواز مه اوچتوه، **الله** پاك په بارگاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د آواز په قلاره [يعني ټيټ] ساتلو والؤ ستائنه کړې ده. په سيپاره 26 سوره **حُجُرات** دريم نمبر آيت کښې فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓىِٕكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۳﴾ (پ26،الحجرات:3)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بيشكه څوک چې خپل آوازونه ټيټ ساتي د رسولُ الله خوا ته، دا هغه خلق دي د چا زړونه چې الله پاک د پرهيزګارئ د پاره ازمائيلي دي، هغوئي لره بخښنه او لوئ ثواب دے.

او څوك چې آوازونه اوچتوي د هغوئي غندنه [يعني مذَمَّت] ئې بيان كړے دے، چنانچه د هُم دې سورت په څلورم آيت كښې ارشاد دے:

اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ (پ26،الحجرات:4)

مفهوم ترجمۂ کنز الایمان: بيشكه هغوئي، څوک چې تاسو ته د حُجرو د بهَر نه غږونه كوي په هغوئي كښې اكثر بے عقله دي.

د تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِزَّت او حُرمت يقيناً نن هم هغه شان دے څنګه چې په ظاهري ژوند كښې وو. د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې خبرو ابو جعفر خاموشه شو. (الشفاء،41/2)

## ﴿12﴾ روضے مباركې طرف ته مخ كوئ او دُعا غواړئ

د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه خليفه ابو جعفر منصور تپوس اوكړو چې زه (روضے مباركې ته د حاضريدلو په موقع) د دُعا كولو په دوران كښې قبلے طرف ته مخ كړم كه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته مخ كړم؟ حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: د نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تاسو څنګه مخ اړولے شئ؟ حُضُورِ اكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت په ورځ ستا او ستا د والدِ محترم حضرت آدم صَفِـيُّ الله د پاره هم وسيله دے، تاسو نبـيِ رحمَت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طرف ته مخ کړئ او د شفاعت خيرات اوغواړئ، اللّٰه پاك به د خپل حبيب شفاعت ضرور قبول کړي، اللّٰه پاك ارشاد فرمائي:

وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۶۴﴾

(پ5،النساء:64)

مفهوم ترجمهٔ کنز الایمان: او چې کله هغوئي په خپلو ځانونو ظلم اوکړي نو اے محبوبه! ستا په حُضُور کښې حاضر شي او بيا د الله نه مُعافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اوکړي نو ضرور به الله ډير توبه قبلوونکے مهربانه اوموي.

(الشفاء،41/2)

مجرِم بلائے آئے ہیں "جَآءُوْكَ" ہے گواہ
پھر رد ہو کب یہ شان کریموں کے در کی ہے
(حدائقِ بخشش،205)

**د ترجمے مفهوم:** يعني ګنهګارانو ته خو د خپلو ګناهونو د معافئ غوښتلو د پاره **اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې د خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا دربار ښودلے دے او په هغې باندې دا لفظ "**جَآءُوْكَ**" ګواه دے ، نو د رحم و کرم والؤ دا شان نه دے چې د مجرمانو فرياد دِ رد کړي۔

## د انسان نسب د هغه کور دے

حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به د دُنيا نه ډير زيات بے رَغبته اوسيدلو او د آخرت په مُعامَله کښې به ئي غور و فِکر کولو. په علم حاصلولو کښې به ئي کوشش کولو او د مومِنانو خيرخواهي به ئي کوله. د مسلمانانو خليفه مهدي د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړو: آيا ستاسو څه کور شته؟ هغوئ په جواب کښې اوفرمائيل: نه. خو زه تاسو ته يو حديثِ پاك اورووم، ما د ربيعه بِن ابي عبدالرحمٰن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه نه دا فرمان اوريدلے دے چې: د انسان نسب د هغه کور دے. (احياء العلوم،47/1)

## د چا نه چې كيدے شي نو په مدينه كښې دِ مړ شي

د حضرت عبدُ الله بِن عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما نه روايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنِ اسْتَطَاعَ اَنْ يَّمُوْتَ بِالْمَدِيْنَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا فَاِنِّي اَشْفَعُ لِمَنْ يَّمُوْتُ بِهَا يعني چې څوك په مدينه كښې مړ كيدے شي هغه دِ هم هلته مړ شي ځكه چې زه به په مدينه كښې د وفات شوو خلقو شفاعت كووم. (ترمذی،5/483،حديث:3943)

مشهور مُفَسِّر حكيمُ الْاُمَّت حضر ت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ظاهره دا ده چې دا زيرے او هدايت صرف د مهاجرينو د پاره نه دے بلكه د ټولو مسلمانانو د پاره دے، يعني د كوم مسلمان نيت چې په مدينه منوره كښې د وفات كيدو وي هغه دِ كوشش هم هلته د وفات كيدلو كوي، كه الله ئې ورنصيب كړي نو هلته دِ قيام اوكړي، خاص طور په بوډا والي كښې او بے ضرورته دِ د مدينے مُنَوَّرے نه بهَر نه ځي چې مرګ او دفن په مدينه كښې ورنصيب شي. حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡه به دُعا كوله: "مولا ما ته د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښار كښې د شهادت مرګ راكړې." د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡه دُعا داسې قبوله شوه چې سُبۡحٰنَ الله د سحر لمُونځ په مسجدِ نبوي، محرابُ النَّبِي كښې د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مُصَلّٰی باندې شهادت. ما بعضې خلق ليدلي دي چې د ديرشو څلويښتو كالو نه د مدينے منورے په حدودو كښې دي، د مدينے مُنَوَّرے د حدودو او د مدينے مُنَوَّرے د ښار نه بهَر نه ځي د دې ويرې چې مرګ مې بهَر را نشي، د حضرت امام مالِك رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم دا طريقه وه. (مرآۃالمناجيح،4/222)

## په مدينه كښې وفات او د وفات كيدو په وخت كښې د نيكئ دعوت

حضرت امام مالِك رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په 179 هجري كښې د صَفَرُ الْمُظَفَّر يا د رَبِيۡعُ الْاَوَّل په 10يا 11 يا 14 تاريخ مدينه منوره كښې وفات شو او په جَنَّتُ الْبَقِيۡع كښې دفن شو. (سيراعلام النبلاء،7/435434) د

وفات كيدو په وخت كښې هُم هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نيكئ دعوت وركړو. يَحيٰى بِن يَحيٰى مَصْمُودِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې ربيعه رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: زما په نِزد يو كس ته د لمَانځه مسائل ښودل د زمكې ټول دولت صدقه كولو نه بهتر دي او د چا ديني پريشاني لرې كول د سلو حجونو نه غوره دي. او د اِبنِ شهاب زُهري رَضِیَ اللهُ عَنْه په حواله سره بيان شوي دي چې هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْه اُوفرمائيل چې: زما په نِزد چا ته ديني مشوره وركول په سلو غزواتو كښې د جِهاد كولو نه بهتر دي. يَحيٰى بِن يَحيٰى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې د دې خبرو نه پس امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بله يوه خبره هُم اونكړه او وِصال ئې اوشو. (بستان المحدثين، ص39،38) د **الله** پاك دِ په هغوئي رحمَت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمين بِجاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند سیدھی سڑک یہ شہرِ شَفاعت نگر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص222)

## دوزخ نه د خلاصي زيرے

حضرت اِبنِ قاسِم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې مونږه د حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات كيدلو په وخت د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته حاضر وو. حضرت اِبنِ دَرَاوَردِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حاضر شو او عرض ئې اوكړو: اے ابوعبدُ الله! تيره شپه ما خوب ليدلے دے، آيا تاسو ئې اوريدل خوښوئ؟ هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: واوروئ ئې. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوب بيانول شروع كړو چې ما په سپينو جامو كښې يو كس اوليدو چې د آسمان نه راكوز شو، د هغه په لاس كښې داسې رجسټر وو چې هغه د زمكې او آسمان په مينځ كښې خور شوے وو، هغه دري ځله اووئيل: هٰذَا بَرَاءَةٌ لِمَالِكٍ مِّنَ النَّارِ يعني دا د امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پاره د دوزخ نه براءَت نامه ده. دا خبرې لا رواني وے چې د خليفه قاصِد حاضر شو، عرض ئې اوكړو: اے ابو عبدُ الله! د مسجدِ نبوي شريف مُؤَذِّن تيره شپه يو خوب ليدلے دے كوم چې ما د هغوئي نه اوريدلے دے. بيا هغوئي د اولني

خوب په شان خوب واورولو. په دې باندې حضرت امام مالِك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: الله پاک حقيقي مددګار دے، هغه چې څه غواړې کوې ئې. (الروض الفائق،ص217،حکایتیں اور نصیحتیں،ص422)

حضرت يونس بن عبدُالاعلیٰ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د حضرت بِشر بن بكر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه دا فرمان اوريدلے دے چې ما امام اوزاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د علمائے كرامو د يوے ډلې سره په جنت كښې اوليدلو، تپوس مې ترينه اوكړو چې حضرت امام مالِك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چرته دے؟ هغوئي اوفرمائيل: د هغوئي درجات ډير اوچت دي. ما ترينه تپوس اوكړو: هغه څنګه؟ هغوئي جواب راكړو: د هغوئي د رښتياؤ په سبب. (التمہید لابن عبد البر،56/1)

## د يوے كلمے په سبب بخښنه

يو نيك بُزُرګ حضرت امام مالِك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وفات نه پس په خوب كښې اوليدلو، تپوس ئې ترينه اوكړو: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله پاك ستا سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: زه ئې اوبخښلم. تپوس ئې ترينه اوكړو: په څه سبب؟ اوئې فرمائيل: د يوے كلمے په سبب كومه چې ما د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت عُثمانِ غنی رَضِیَ اللهُ عَنْه مُتَعَلِّق د چا نه اوريدلې وه چې كله به هغوئی رَضِیَ اللهُ عَنْه كوم مړے اوليدلو نو لوستل به ئې: اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَيُّوْمُ ، سُبْحَانَ الْحَيِّ الَّذِیْ لَا يَمُوْتُ يعني هغه الله دے چې د هغه نه سِوا بل څوك د عبادت لائق نشته، هغه پخپله ژوندے دے، نور قائم ساتونكے دے، پاك دے هغه ذات كوم چې ژوندے دے هغه ته به هيڅ كله مرګ نه راځي. نو ما به چې كله په خپل ژوند كښې مړے ليدلو نو هميشه به مې دا كلمه لوستله، د دې په بركت الله پاك زه جنّت ته داخل كړم. (ترتیب المدارک وتقریب المسالک،باب ذکر وفاۃ مالک،149/1)

## د امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه ګور و کفن

حضرت امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه وَصِيَّت کړے وو چې ما به په خپلو جامو کښې خخ کړئ او په جنازه ګاه کښې به د جنازے لمُونځ ادا کړئ. د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د جنازے په لمانځه کښې ډير خلق شريك شوي وو چې په هغوئي کښې حضرت اِبنِ عياش، حضرت هاشِم، حضرت اِبنِ کنانه، حضرت شعبه بِن داؤد، د هغوئي کاتِب حضرت حبيب او د هغوئي د ځوئ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په شان شخصيات هم شامل وو. ډير خلق د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه قبر مبارك ته هم کوز شوي وو. (التمهيد لابن عبد البر، 67/1، الروض الفائق، ص217)

## د هغوئي په وفات باندې د عراق د خلقو غم

چې کله د حضرت امام مالِك رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د وفات خبر عراق ته اورسيدلو نو لکه د عراق زمکه چې اوړقيدله. د هغه ځائے خلق د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په وفات باندې ډير زيات خفه شو. يو کس حضرت سُفيان بِن عُيَيۡنَه رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه ته عرض اوکړو: اے ابو محمد! د يو کس خواهش دے چې د داسې عالِم نه د مسئلے تپوس اوکړي چې هغه د هغه او د **الله** پاك په مينځ کښې دليل وي نو هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه اوفرمائيل: داسې عالِم خو صرف حضرت امام مالِك بِن اَنَس رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه دے چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه سړے د خپل ځان او د **الله** پاك په مينځ کښې دليل جوړولے شي. خو چې کله هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه ته اووئيل شو چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه خو وفات شوے دے نو په ډير ارمان او افسوس ئې اووئيل: هائے! بنه خلق د دُنيا نه لاړل. (الروض الفائق، ص218، حکايتيں اور نصيحتيں، ص424)